
الحاج
د عامه

بسم الله الرحمن الرحیم

**لنډه پیژندنه**

ښاغلي مولوی سعید الله " حماس" د مرحوم الحاج مولوي بخته جان زوی په ۱۹۸۳ م کال کې د پکتیکا ولایت، ګیان ولسوالۍ په ښیروي لوړی کلي کې زیږیدلی دی، نوموړی په ۱۹۹۳ م کال کې د صدیق اکبر مدرسې څخه د قرآن کریم حفظ خلاص کړی او په ۲۰۰۴ م کال کې د دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک مدرسی څخه په عالي(ممتاز) درجه فارغ شوی دی.

نوموړي د خلیفه صاحب سراج الدین حقاني په ملګرتیا د یرغلګرو په خلاف مبارزه کې د اول صف ملګرو څخه وو، چې په دی سپیڅلې لاره کې (۳) کاله بند یا زندان هم تیر کړی، ښاغلی د امارت اسلامي اړوند مختلفو برخو کې دندې ترسره کړې دی لکه :

د خلیفه صاحب سراج الدین حقاني د مشارو په حیث او همدارنګه د خلیفه صاحب رابط په حیث او ترڅنګ یې د امارت اسلامي له طرفه د قبایلو په کمیسیون کې هم دنده ترسره کړی ده،د اسلامي امارت د فتحي نه وروسته د کورنیو چارو قدرمن وزیر صیب په وړاندیز او د ریاست الوزرا د عالي مقام حکم پر بنسټ د کورنیو چارو وزارت د عامه ساتنې ملي تصدۍ لوی رییس په حیث په فوق رتبه کې وټاکل شو او تر اوسه په یاد شوی بست کې برحاله دنده ترسره کوي.

**په درنښت**